مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۱/۰۳/۰۵

# د ژغورنې لار

اپلاتون په (جمهوریت) کې تینګار کوي، چې ښه دولت هغه مهال جوړېدلای شي، چې مشران يې فیلوسوفان وي.
اپلاتون ارمانښار ته د رسېدو لپاره لا هم پر دې باور دی، چې وګړي ( افراد) په دولت جوړونه کې مهم دي .
د جمهوریت تر لیکلو پورې پر ټولنيزې قانونمندی باور نه و رامنځته شوی. تر هغې زماني لا څوک نه پوهېدل، چې لوړ ټولنیز شعور ښه دولت رامنځته کولای شي، نه فیلوسوفان .

ابن خلدون لومړنی مورخ دی، چې د ټولني قانونمندی ته يې پام ورواوښت. ښايي څکه خو د ټولنپوهني بنسټوال ګڼل کيږي. تر ده روسته ورو ورو پر ټولنيزه قانونمندی تکیه زیاتېدله، تر دې چې ټولنپوهنه د ګڼو تاریخي تجربو له شننو دې پايلي ته ورسېده، چې په ټولنه کې منځلاری سمون هغه مهال رامنځته کيږي، چې خلک د يوې ګډې شعوري هوکړې په پايله کې منځلاری (معتدل) حکومت رامنځته کړي. داسې حکومت بايد د قانون په مټ مدیریت شي او له هر راز افراط و تفریط څخه پاک وي. مونتسکیو يې په روح القوانین کې بنسټونه راوپېژندل او ژان ژاک روسو همدغه اعتدال پلوې ټولنيزه شعوري ـ ارادي هڅه ( ټولنيزه هوکړه (The Social Contract وباله. روسو په دې تینګار کوي، چې ټولنيزه قانونمندي د شعوري تکامل په پايله کې يوه قانونمنده ټولنه رامنځته کوي .

ټولنپوهنه دومره قانونمنده شوه، چې د وګړو، دولت او ټولني ترمنځ د اړیکو فورمولونه يې د ساینسي هغو په شان يو بو تطبیقېدل.

د دغو ټولو علمي ارونو له مخې، له بده مرغه زموږ ټولنه په شدت د افراط او تفریط په لوړو ژورو کې ماته ماته ده. اعتدال ته د رسېدو شعوري او ارادي پړاو ته لاهم رسېدلې نه ده .

دا چې د یوې قانونمندې ټولني جوړولو لپاره به څه وخت د ټولنيزې هوکړې پړاو ته ورسیږو؟ د روښانفکرو او ژوندپلویو افغانانو له یووالي او عملي اقدام سره تړلې ده.

**نو:**

**ملي پالو،**

**روښانفکرو،**

**موډېرنيستو،**

**هېوادپالو**

**او ښووڼځي و پوهنځي ته تلليو افغانانو!**

معجزو، خرافاتو، پردیو ارادو، دعاګانو یا ښېراوو، تصادفاتو او د اپلاتون په شان د وګړيو نبوغ ته په تمه مه کينئ .
پر علمي بنسټونو او فورمولونو باور ولرئ، اراده وکړئ، یوبل ته د داسې یوه ټولنیز قرارداد پربنسټ نږدې شئ، چې له افراط و تفريط څخه لرې، پر اعتدال ولاړې قانونمندې، شعوري او پر خپلې سیاسي ارادې متکي ټولني ته مو ورسولای شي .

**له دې پرته د ژغورنې بله لار نشته، که شته تاسو يې راوښیئ!**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ